# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت:

د ۲۰۲۴ کال جولای - سپټمبر میاشتو تازه راپور

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دې راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه معلومات چې د ۲۰۲۴ کال له جولای څخه تر سپتمبر پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي،[۱] دا د هغې څارنې پر بنسټ ولاړ دی چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ورکړل شوي ماموریت له مخې ترسره شوې.[۲]

## د امربلمعروف اونهې عن المنکر قانون

د آګسټ په ۲۱ نیټه، *برحاله* دعدلیې وزارت د امربالمعروف او نهې عن المنکر قانون ("قانون")[۳] خپور کړ او د هغې د پلي کولو مسولیت یې *برحاله* د امربالمعروف او نهې عن المنکر وزارت ته وسپاره. یو شمیر محدودیتونه چې وار د مخه د فرامینو، حکمونو او لارښوونو په ډول صادر شوي و، دی قانون کې تسجیل شو، لکه: د ښځو لپاره د حجاب اغوستلو او له کور څخه بهر د مخ پټولو اړتیا؛ د نارینه و لپاره د ږیرې پرېښودل او په جوماتونو کې په جماعت سره د لمونځ اداء کول؛ په څانګړو جشنونو لکه نوروز او یلدا (یلدا شپه) باندې بندیزونه، په موټر کې د موسیقۍ غږول او د ژوندیو موجوداتو انځورونو ترسیم کول.

داسې ښکاري چې قانون مخکیني محدودیتونه پراخوي، او نوي محدودیتونه ور زیاتوي. تر ټولو د پام وړ اقدامات عبارت دي له:

- ټکسي او شخصي موټرو چلونکي نباید هغو ښځو ته چې محرم (نارینه سرپرست) ورسره نه وي، سورلي برابره کړي. د موضوع په اړه پخوانیو لارښوونو کې ښځو ته اړتیا وه چې د ۷۸ کیلومترو څخه زیات واټن لپاره محرم ورسره وي،[۴] پداسې حال کې چې قانون په موټر کې پرته له محرم څخه د ښځو سفر په اړه هیڅ صراحت نلري.
- د ښځو غږ ستر ګڼل کیږي او باید په عام ځای کې پټ شي.[۵] قانون وايي کله چې ښځه د «ضروري هدف» لپاره خپل کور څخه بهر ځي نو هغه باید خپل غږ، مخ او ځان پټ کړي.همدارنګه قانون نارینه منع کوي چې د یوې ښځې بدن او مخ ته وګوري کومې چې دوی یې نه پیژني او برعکس یې.
- *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبین دنده لري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې خپروني او د رسنیو محتویات له شریعت سره په ټکر کې نه دي، د مسلمانانو سپکاوی نه کوي او د ژوندیو موجوداتو انځورونه پکې نشته.
- قانون محتسبینو ته پراخ واکونه ورکوي لکه تر دریو ورځو پورې د هغو کسانو د توقیف واک چې انګیرل کیږي د قانون څخه یې سرغړونه کړې؛ او محکمو ته د سرغړونکو وریږندلو په ګډون د نورو تعزیري مجازاتو پلې کول.
- د قانون له خپرېدو وروسته، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او نورو *برحاله* وزارتونو د دې قانون له محتوا سره د خپلو کارکوونکو د آشنا کولو په موخه سیمینارونه جوړ کړل. برسېره پر دې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو په چک پاینټونو کې عامو خلکو ته او ځایونو لکه جوماتونو، بازارونو، سلماني ګانو، روغتیایي مرکزونو، تعلیمي موسسو او نادولتي موسسو د دفترونو څخه د لیدنو په ترځ کې هغوی ته لارښوونې کړې او د قانون د پلې کیدو څخه یې څارنه کړې. د اکتوبر په ۲ مه نیټه، د طالبانو مشر د ټولو ولایتونو *برحاله* والیانو ته لارښوونه وکړه چې داسې کمیټې جوړې کړي چې لومړی په خپلو

[۱] په دې معلوماتو کې کارول شوې نیټه ۲۰۲۴ کال ده، البته که د بل مشخص تاریخ یادونه شوې وي.
[۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک نمبر ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک په اساس تمدید شو.
[۳] د عدلیې وزارت -وزرات عدلیه[@MojAfghanistan] ، اکس (مخکنی ټویټر )، ۲۱ اګسټ ۲۰۲۴، ۴:۰۵ مازدیګر . د لاسرسي وړ : https://x.com/MojAfghanistan/status/1826221513504382986
[۴] د امر بالعروف،نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت، [@MOPVPE1]اکس (پخوانی ټویټر )۲۱اګسټ ۲۰۲۴ ۴:۰۵ مازدیګر د لاسرسي وړ : https://x.com/MojAfghanistan/status/1826221513504382986
[۵] د اکتوبر په ۳مه، له بي بي سي فارسي سره په مرکه کې، د امربالمعروف، نهی عن المنکر د برحاله وزارت چارواکو مرستیال څرګنده کړه چې قانون د ښځو غږ نه دی منع کړی کله چې د دوی لپاره خبرې کول اړین دي لکه د پیرودلو پرمهال.
د لاسرسي وړ: .https://www.bbc.com/persian/articles/c77xze8yvv7o

> *برحاله* چارواکو د قانون په پلي کولو تمرکز وکړي، او وروسته په ټول هیواد کې په پراخه کچه تطبیق شي...

دغه قانون د ښځو او نجونو وار دمخه محدود شوي، د تګ راتګ آزادی، بیان او عامه او ورځني ژوند کې د ګډون حقونه لا نور محدودوي. د بېلګې په ډول، د سپتمبر په لومړۍ نیټه، په کندهار ولایت کې د عامې روغتیا ریاست لخوا یو مکتوب صادر شو چې د مخې یې د عامه روغتونونو ښځینه کارکوونکو ته لارښوونه وشوه چې روغتون ته د تګ او راتګ پر مهال به محرم ورسره وي.  په هلمند ولایت کې، د سپتمبر په لومړۍ نیټه، یو روغتون ته چې د نادولتي موسسې  لخوا اداره کیده یو ورته لیک صادر شو چې یوه بله ماده هم پکې شامله وه، داسې چې روغتون ته د ننوتلو لپاره باید ښځینه ناروغانو سره هم محرم وي. برسیره پردې، د هیواد په ځینو برخو کې، قانون کې محرم ته د اړتیا موضوع د لا ډیر تطبیق په پایله کې، ټکسي چلوونکو د محرم پرته ښځو لپاره د ټرانسپورټ د وړاندې کولو څخه ډډه کړې.

د جولای په ۹ مه نیټه، یوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر «په افغانستان کې د *برحاله* چارواکو اخلاقي نظارت: په بشري حقونو یې اغیزې»[6] تر عنوان لاندې یو راپور خپور کړ چې د *برحاله*  امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا صادر شوي فرمانونه او حکمونه او د قانون له خپریدو مخکې د هغوی د پلي کیدو څرنګوالی روښانه کوي. د هغه راپور موندنې ښيي چې د *برحاله*  وزارت لخوا ترسره شوي اقدامات، په افغانستان کې د خلکو د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو څخه برخمن کیدو باندې منفي اغیزه ښیندلې، او په ښځو باندې د تبعیض نه ډکه او نا متناسبه اغیزه کړې ده.

## د ښځو او نجونو حقونه

په نا دولتي مؤسسو په سکتور کې، ملکي خدماتو او یو شمیر نورو مسلکونو کې، د دوی [ښځو] په کار کولو باندې د دوامداره محدودیت سره سره، ښځو ته د *برحاله* چارواکو لخوا اجازه ورکړل شوې چې په ځینو بازارونو او ننداړتونونو کې غرفې جوړې کړي.[7] سره د دې چې ښځو ته په ساحه کې د کار کولو اجازه ورکړل شوې، ښځې د *برحاله* چارواکو لخوا  وضع شوي تبعیض او محدودیتونو سره مخ دي.  د مثال په ډول:

- د اګسټ په ۷ مه نېټه، په تخار ولایت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کارکوونکو د لاسي صنایعو یو ننداړتون له دی امله وتړه چې د راپور له مخې ښځینه پلورونکو مناسب حجاب نه و اغوستی او د نارینه پلورونکو سره یې خبرې کولې (دهغو سره چې غرفې یې په جلا تالار کې وې). د دواړو ننداړتونونو (ښځینه او نارینه) د ترسره کیدو مخه ونیول شوه.

*برحاله* چارواکو - عمدتاً *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت - د ښځو د تګ راتګ په آزادۍ باندې (ان د قانون له تصویب څخه دمخه)  محدودیتونو پلي کولو ته دوام ورکړی، چې کار، چوپړتیاوو او تفریح ته د دوی لاسرسی اغیزمن کوي. یوناما د هغو مواردو ثبتول جاري ساتلي چې په هغه کې ښځې له خپلو کورونو څخه لنډ واټن ته سفر کوي - د بېلګې په ډول، د کار ځای یا بازار ته – او د سفر څخه منع کیږي ځکه چې محرم ورسره نه وي یا داسې انګیرل کیږي چې سم حجاب نه لري.

- د جولای په ۱۹ مه نیټه، په کندهار کې *برحاله* پولیسو د هغو کورنیو مخه ونیوله چې په موټر کې ورسره ښځې وې او غوښتل یې د شاه ولي کوټ ولسوالۍ د ډهلې اوبو بند تفریحي ساحې ته لاړ شي، ویل کیږي چې یوازې نارینه و ته اجازه ورکړل شوې چې د بند ساحه کې میله وکړي.

د ثانوي او لوړو زده کړو څخه د نجونو او ښځو محرومیت دوام لري. د آګسټ په ۲۵ نیټه، *برحاله* د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت سرپرست ندا محمد ندیم *برحاله* د لوړو زده کړو وزارت د لاسته راوړنو په اړه د یوې خبرې غونډې پر مهال وویل،[8] دیني عالمان څېړنې کوي چې آیا ښځې د زده کړو اجازه لري او که نه. د ۲۰۲۲

۶ سرچینه: یوناما/ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي‌کمشنرۍ "په افغانستان کې د برحاله چارواکو اخلاقي نظارت: د بشري حقونو اغیزې"، د جولای په ۹، ۲۰۲۴ کې د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0

۷  د مثال په ډول: یوناما [@UNAMAnews] اکس (پخوانی ټویټر) د اکتوبر ۹مه د لاسرسي وړ : https://x.com/UNAMAnews/status/1844000747362582644اسکس

۸ https://x.com/pajhwok/status/1827665596734943560 او د نجونو زده‌کړو په اړه د لوړو زده‌کړو وزارت د سرپرست تازه څرګندونې (youtube.com)

کال د ډسمبر میاشتې ۲۰ مې نیټې[۹] څخه راپدېخوا نږدې دوه کاله کېږي چې *برحاله* د لوړو زده کړو وزارت ښځينه زده کړیالانو لپاره لوړې زده کړې ځنډولې دي او په ۲۰۲۱ کال آګست کې د طالبانو تر واکمنېدو وروسته د نجونو د لیسو د ټړلو څخه د دریو څخه ډیر کالونه تیر شول. د ښځو او نجونو لپاره په رسمي زده کړو باندې د بندیزونو سربېره، *برحاله* چارواکو د زده کړو بدیلونو ته د دوی د لاسرسي مخه نیولی ده. د ۲۰۲۴ کال په آګسټ کې، لږ تر لږه په دوو ولایتونو کې (خوست او پکتیا) راډیوګانو ته لارښوونه وشوه چې د شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو لپاره د تعلیمي پروګرامونو خپروني بندې کړي

## ملکي تلفات

د جولای او سپټمبر تر منځ، د اسلامي دولت - خراسان ولایت د یو شمیر پیښو ادعا وکړه چې ملکیانو ته په کې مرګ ژوبله اوښتې ده. د اسلامي دولت خراسان ولایت په خپرو شوو ادعاګانو کې ویلي چې د پیښو هدف شیعه مسلمانان او برحاله چارواکي وو:

- د آګسټ په ۱۱ مه نیټه، د کابل د دشت برچي په سیمه کې په یوه میني بس کې د یوه ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې یو ملکي وګړی ووژل شو او ۱۳ تنه نور ټپیان شول چې ټول هزاره وو. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې دوی یوه مرینه او ۱۱ ټپیان ثبت کړي او دا چې "اړوندو چارواکو ته د پیښې د عاملینو د نیولو جدي لارښوونې شوې دي".
- دآګسټ په ۲۲ مه نیټه، دننګرهار ولایت په دره نور ولسوالی کې، برحاله د نورستان ولایت امنیه قوماندان موټر کې د یوه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې په پایله کې شپږ تنه هلکان ووژل شول او څلور تنه ملکي نارینه وګړي چې په دې وخت کې د سیمې څخه د تیریدو په حال کې وو ټپیان شول. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې برحاله امنیتي ځواکونو د پیښې په تړاو دري شکمن کسان نیولي او څېړنې ترې روانې دي.
- د سپټمبر په ۲ مه نیټه، په کابل کې د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست مخې ته ځانمرګي برید وشو، چې لږ تر لږه اوه ملکي وګړي پې ووژل او تر ۲۹ ډېر نور پې ټپیان کړل. برحاله د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې: "د افغانستان اسلامي امارت د یوه مسؤل رژیم په توګه په دې ویاړي چې د هیواد په هره برخه کې پرته له کومې ستونزې د هیواد په کچه امنیت تامین کړی. خو د کابل ښار په شپږمه ناحیه کې د اسلام او خلکو د دښمنانو له خوا چاودنه وشوه چې له امله یې یو شمېر کسان ټپیان شول. دوی دا هم یادونه وکړه چې برحاله امنیتي ادارو ته لارښوونه شوې چې د پېښې د عاملینو د نیولو لپاره "جدي اقدام" وکړي.
- د سپټمبر په ۱۲ مه نیټه، د غور او دایکندي ولایتونو ترمنځ په پوله، وسله والو بریدګرو یو موټر برمته کړ، مسافر یې ښکته کولو ته اړ کړل او پر هغوی یې ډزې وکړې، ۱۴ ملکي وګړي یې ووژل او څلور نور یې ټپیان کړل. ټول قربانیان هزاره شیعه وو چې د عراق له کربلا (د شیعه مسلمانانو مقدس ځای دی) څخه د راستنیدونکو حاجیانو د هرکلي لپاره یې سفر کاوه. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې د کورنیو چارو وزارت یو ګډ پلاوی دایکنډي ته سفر کړی چې له قربانیانو او د هغوی له کورنیو سره وګوري او له هغوی سره مالي مرستې وکړي او په غور ولایت کې د ترهګرو د پټنځایونو پر ضد عملیات ترسره شوي دي. داعش وسله وال او د دې پېښې عاملین هم عدالت ته راکاږل شوي.»

## د پولې په اوږدو کې پيښې

د افغانستان په کونړ، ننګرهار او خوست ولایتونو کې د پولې په اوږدو کې د یو لړ پیښو په پایله کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې:

[۹]یونسکو، د د افغانانو د تعلیم خوندیتوب ۲۶اد اګسټ ۲۰۲۴ د لاسرسي ور : https://www.unesco.org/en/emergencies/education/afghanistan#:~:text=Education%20in%20Afghanistan&text=Since%2020%2D

- د ۲۰۲۴ کال د جولای په لومړۍ نېټه، شاوخوا د غرمې ۲:۰۰ بجې د کنړ ولایت د دانګام ولسوالۍ، وره ګوریګا په سرحدي سیمه کې، پاکستاني پوځیانو د هاوان یو شمېر مرمۍ وتوغولې چې د استوګنې یوه سیمه یې اغېزمنه کړه. په پایله کې یوه ښځه ووژل شوه او یو هلک او یو سړی ټپیان شول. سربېره پر دې، یو کور هم زیانمن شو. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې په دې پېښه کې یوه ښځه وژل شوې او یو بل کس ټپي دی او ۲۸ څاروي هم وژل شوي دي.
- د آګسټ په ۱۲مه نېټه، د ننګرهار ولایت مومند درې ولسوالۍ، تورخم سرحدي سیمه کې د پاکستاني پوځیانو او *برحاله* امنیتي ځواکونو ترمنځ وسله واله نښته شوې چې په پایله کې یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د راپورونو له مخې د پاکستان لخوا د هاوان د ډزو په پایله کې درې تنه وژل شوي (یو سړی، یوه ښځه او یو هلک) او درې ټپيان شوي (دوه سړيان او یو هلک). د جګړې له امله سلګونه اوسېدونکي هم بې ځایه شوي وو. په ځواب کې، په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته خبر ورکړ چې: «د پاکستان پوځ تل د افغانستان له پرله پسې پارونو سره سره له ډېر زغم څخه کار اخلي او د هر ډول تاوتریخوالی پرې یوازې د افغانستان په غاړه ده.» برحاله د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته راپور ورکړی چې "د پاکستان پوځي ځواکونو د سپکو او درنو وسلو ډزې وکړې. په یوه کور د هاوان مرمۍ د لګېدو له کبله دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شول." او دا چې په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو د خوندیتوب او مصؤنیت د تامین لپاره، [د *برحاله* کورنیو چارو وزارت] د بشري حقونو ریاست اراده لري چې پولیسو ته د بشردوستانه قانون د اصولو او احکامو په اړه د پوهاوي پروګرامونو له لارې روزنه ورکړي. "
- د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په ۷مه نېټه، د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ، ساتیوان او پلوسي سیمو کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ وسله والې نښتې وشوې چې په پایله کې یې دوه ملکي وګړي (یوه ښځه او یو سړی) ووژل شول او پنځه نور نارینه ټپیان شول. په سیمه کې یو شمېر کورونه هم زیانمن شوي دي. په ځواب کې، په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته خبر ورکړ چې: «د پاکستان پوځ تل د افغانستان له پرله پسې پارونو سره سره له ډېر زغم څخه کار اخلي او د هر ډول تاوتریخوالی پرې یوازې د افغانستان په غاړه ده.» *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته ویلي چې په دې پېښه کې دوه تنه وژل شوي او څلور نور ټپیان دي.

## پخواني حکومتي چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي[۱۰]

د جولای د لومړۍ او سپتمبر د ۳۰ نېټې ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د خپلسري نیونو او توقیف لږ تر لږه ۲۴ موردره، د شکنجې او ناوړه چلند او لفظي ګواښونو لږ تر لږه ۱۰ موارده او د افغانستان د پخوانیو ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو لږ تر لږه ۵ وژنې.

## بدني سزا

*برحاله* چارواکو په منظم ډول په عام محضر کې د قضایي بدني سزاګانو پلي کول جاري ساتلي او ځینې وختونه دغه سزاګانې پر زیات شمیر وګړو په ګروپي ډول تطبیق شوي. د جولای پر ۲ نېټه په ارزګان ولایت، ترینکوټ ښار کې *برحاله* چارواکو ۱۸ نارینه په علني ډول د لوبو په میدان کې په دورو ووهل، هر کس د ۱۹ او ۳۹ درورو ترمنځ، ووهل شو.[۱۱] دوی د *برحاله* استیناف محکمې له خوا غلا، لواطت، او زنا لپاره محکوم شوي وو. زرګونو ځايي اوسیدونکو، دینی عالمانو او *برحاله* ځايي چارواکو د مجازاتو د تطبیق

۱۰ افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه (ANDSF) یوه چترۍ اصطلاح ده چې د افغانستان د پخواني حکومت امنیتي ځواکونو ته کارول کیږي او په دې کې راتلونکي هغه شامل دي: افغان سرحدي ځواک، افغان محلي پولیس، افغان ملي اردو، افغان هوایي ځواک، افغان ملي پولیس، د افغانستان ملي ملکي نظم ځواک، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان ځمکني پوځ (د افغان ملي اردو - سیمه ایز ځواک په نوم هم یادیږي)، او د ملي امنیت ریاست.
۱۱ *برحاله* سترې محکمې بیانیې ته د لینک اضافه کیدل.

لیدلو ته ورغلي وو.

د جولای د لومړۍ او سپتمبر د ۳۰ نېټې ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د لږ تر لږه ۱۱۱ افرادو پر ضد (۹۵ نارینه، ۱۵ ښځې او د یوې انجلۍ) قضایي بدني مجازات مستند کړي.

## د رسنیو آزادي

د دې راپور په موده کې، د محدودیتونو دوه نوې تولګې دبیان په آزادۍ او د رسنیو په آزادۍ وضع شول:

- د سپتمبر په ۲۰مه نیټه *برحاله* د ریاست الوزراء دفتر یوه بیانیه خپره کړه چې په عام بحثونو کې، لکه خبرو اترو کې، د دیني عالمانو ګډون محدودوي. بیانیه دیني عالمانو ته لارښوونه کوي چې د نزاع پاروونکو بحثونو څخه چې د خلکو د تشویش لامل ګرځي، ډډه وکړي، او هغه علماء چې اختلافاتو ته لمن وهي، خرافاتو ته وده ورکوي او په عامه رسنیو کې نامناسب الفاظ کاروي باید غونډو ته و نه غوښتل شي.[12]
- د سپتمبر په ۲۱مه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت په یوه غونډه کې رسنیو ته لارښوونه وکړه چې په ژوندۍ بڼه د سیاسي خبرو اترو پروګرامونو خپرول ودروي. سیاسي خپرونې باید ثبت شي او هغه محتوا یې چې حساسه یا د *برحاله* چارواکو په ضد ګڼل کېږي باید د خپرېدو څخه وړاندې لرې کړل شي. همدارنګه *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۶۴ شنونکو ( د دوه ښځو په ګډون) نوملړ خپور کړ هغوي چې کولای شي د سیاسي خبرو اترو پروګرامونو ته وبلل شي. رسنۍ اړ دي چې د بحث عنوان او پروګرام ته رابلل کېدونکو کسانو (که چیرې د *برحاله* وزارت په تائید شوي لست کې شامل نه وي) تائیدي د پروګرام څخه وړاندې د *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت نه ترلاسه کړي.

## عدلي اجراآت

د جولای او سپتمبر تر منځ، *برحاله* مختلفو وزارتونو د عدلي اجراآتو په اړه خبر ورکړی:

- د جولای په ۲۵مه نیټه، *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست عمومي رئیس د یوې غونډې پر مهال وویل چې هغوی «خپلې دندې د یو جامع او بشپړ قانون پر بنسټ ترسره کوي، کوم چې د اسلامي شریعت او حنفي فقې څخه تخریج شوی او د علماوو او متخصصینو له خوا تائید شوی او د طالبانو د مشر له لورې توشیح شوی دی، او د دغه قانون د پلې کېدو څخه په کلکه څارنه ترسره کوي.» هغه زیاته کړه چې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست کارمندان «د اسلامي شریعت او قانون تابع دي او د سرغړونې په صورت کې به تحقیقات ورځخه وشي، اوس د استخباراتو لوي ریاست مصلح او قانونمنده اداره ده.»[13]
- د آګست په ۴مه نیټه، *برحاله* د عدلیې وزارت د حقوقي مساعدت د وړاندې کولو، *برحاله* محکمې له لورې یې وزله شکمنو ته برائت ورکول چې *برحاله* عدلیې وزارت له لورې یې دفاع شوې وه او د ګڼو قانوني اسنادو بیا کتنې په ګډون،[14] په تیر یو کال کې د خپلو لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ.
- د آګسټ په ۸ مه نیټه، *برحاله* ویاند، ذبیح الله مجاهد د لمانځه په اړه د طالبانو د مشر د۲۰۲۴ کال د جولای د میاشتې ۲۳مې نیټې، ۲ ګڼه فرمان خپور کړ،[15] په تعقیب یې د آګسټ په ۲۱ مه نیټه، *برحاله* د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون د طالبانو د مشر له خوا توشیح شوی او هغه یې خپور کړ.[16]
- د سپتمبر په لومړۍ نیټه، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون ادارې په تیر یو کال کې د خپلو لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ، او دې مواردو

[12] سرچینه: https://x.com/ARG_1880/status/1837033783729565962
[13] https://x.com/GDI1415/status/1816379704548659631; https://x.com/GDI1415/status/1816380997250044156
[14] https://x.com/MojAfghanistan/status/1820065282313896109 او https://www.facebook.com/share/p/MQtxFNChhhBWnH3j/
[15] https://x.com/Zabehulah_M33/status/1821471869406695783
[16] https://x.com/MojAfghanistan/status/1826221517538996455; https://t.co/0FTC233kXL; https://t.co/o28plfppRs

ته شامل وو:[۱۷] د ټولو بندیانو او خبریالانو ته ډاډ ورکول چې د شکنجې او بدني سزا د لیدو په صورت کې کولای شي هغه راپور کړي او هڅې کوي چې د بندیانو وضعیت کې ښه والی راشي لکه د مذهبي، عصري او مسلکي زده کړو ته د زمینې برابرول.

- د سپتمبر په ۱۲ مه نیټه، *برحاله* د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د *برحاله* چارواکو په قانوني اسنادو باندې نیوکه په شریعت باندې نیوکه ده او د منلو وړ نده، او د طالبانو د مشر له لورې د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر ۲۴ مې نیټې د توشیح شوي طرزالعمل یادونه یې وکړه چې د مخې یې د نوو قانوني اسنادو د تصویب لپاره د علماوو یوې کمیټې ته د بررسی او څېړنې دنده ورکړل شوی تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول اسناد شرعي بنسټ لري. د دې یادونه وشوه چې د قانون د محدودې په اړه وضاحت یا د اصلاح لپاره وړاندیزونه اوریدل کیږي خو هغه کسان چې په رسنیو کې په اسنادو نیوکې کوي محکمې ته به وروپېژندل شي.[۱۸]

- د سپتمبر په ۱۹ مه نیټه، *برحاله* سترې محکمې په تیر یو کال کې د ۲۳۰۴ بندیانو د خوشې کیدو او ۱۹۲۰ بندیانو ته د اخترونو په مناسبت په سزا کې د کموالي، د نورو قضایاوو تر څنګ د ښځو د شرعي حقوقو اړوند د ۳۳۷۳ دوسیو حل او فصل کول، ټولو ولایتونو د مرافعې، ښاري او ولسوالی د محکمو څخه کتنې او همدارنګه د بندیانو د وضعیت د ارزونې په منظور د زندانونو څخه د کتنې په ګډون،[۱۹] د خپلو لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ.

- د سپتمبر په ۲۴ او ۲۵ مه نیټه، د طالبانو مشر د *برحاله* سترې محکمې د چارواکو سره لیدنه وکړه او هغوی ته یې لارښوونه وکړه چې قضایي چارې د اسلامي شریعت پر بنسټ ترسره کړي، د قضاء په خپلواکۍ یې ټینګار وکړ، او تاکید یې وکړ چې په اسلامي نظام کې ټول وګړي باید د شرعي حقونو څخه برخمن شي او محکمې باید د ظالمانو په مجازات سره د مظلومو کسانو ملاتړ وکړي.[۲۰]

- په دی موده کې، *برحاله* سترې محکمې اعلان کړی چې لږ تر لږه د قتل ۵ قضیې چې د قصاص مستلزم وې د *برحاله* ابتدائیه او مرافعه محکمو له خوا ځایي منځګړیتوب ته د حل او فصل په منظور لیږل شوي دي.[۲۱]

۱۷ د افغانستان د حکومت د رسنیو او اطلاعاتو مرکز، د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر لومړی نیټه، https://x.com/GMICafghanistan/status/1830176709187862964 د زندانونو د چارو د سمون اداري خبري کنفرانس سره تړاو لري- د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر ۲ مه نیټه، عنوان: د امارتي ادارو یو کلنې لاسته راوړنې؛ https://www.youtube.com/watch?v=DzC3WPdPGcQ (وروستې ځل د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۸ مه نیټه کتل شوی).

۱۸ https://moj.gov.af/ps/node/3435; https://x.com/MojAfghanistan/status/1834145062067871999

۱۹ https://x.com/SupremeCourt_af/status/1836635864161464652

۲۰ https://x.com/SupremeCourt_af/status/1839268587468472547

۲۱ https://t.co/GT3VDy31ZA; https://x.com/SupremeCourt_af/status/1829059106356830664; https://t.co/MRjCu8eiL1; https://x.com/SupremeCourt_af/status/1834155557256634583; https://t.co/M1SyZWP0vb https://x.com/SupremeCourt_af/status/1835652251936805262;